# د شپېلۍ



# مینه (مه ینه)

# په کچه کړۍ کې

لیکوال:
داکتر مهندس حشمت الله «اتمر»
میاشت ــ غویی / کال -۱۴۰۳

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ليکي پوهه:

**سرليک:** د شپېلۍ مينه (مه ينه) په کچه ګړۍ کې
**ليکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**ايډېټور:**
**د پخښتۍ ډيزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:**
**چاپ نېټه:** مياشت غويی / کال ۱۴۰۳
**ګرځنده اړيکه:** ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+
**برېښناليک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښتۍ............................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ............................................................ ۲
لیکي پوهه:............................................................ ۳
لړلیک ............................................................ ٤
ننتوزې ............................................................ ٥
د یادښتونو له پاره:............................................................ ۷
نا اندوله (ناول، کېسه یا داستان) ............................................................ ۸
د چاپ شویو کتابونو لېست............................................................ ۷۲
د کار لاندې کتابونو لېست ............................................................ ۷٥
د امکان او وخت په صورت کې............................................................ ۷٦
د پخښتۍ څېټ ............................................................ ۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ننتوزې

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسېدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل چې يو بل حقيقی داستان (ناول) و ليکم کوم چې کيسه يې را ته زما ګران ملګري (ج ح) کړی ده، زما د کتابونو مېنه وال يوازې انجينران نه دي او نه بايد اوسي، نو ځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښنه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونه:**

د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره زما سره شریکې کړئ.

Whatsapp: ٠٠٩٣٧٩٩٣٧٦٩٩٨

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د يادښتونو له پاره:

۱- ..........................................................................................

۲- ..........................................................................................

۳- ..........................................................................................

۴- ..........................................................................................

۵- ..........................................................................................

۶- ..........................................................................................

۷- ..........................................................................................

۸- ..........................................................................................

۹- ..........................................................................................

۱۰- ..........................................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نا انډوله (ناول، کېسه يا داستان)

د ۱۹۹۷ ميلادي کال و، د افغانستان ډېرى خلک د مجاهېدينو خپل منځي جګړوله کبله، هيواد پرېښنو دو ته اړ شوو، جګړې به ورځ تر بلې زور اخيست، بی ګناه اولس په منځ کې سوځېده او له مېنځه ته، د هرې ژبې هيواد وال له هرګوړ نه د ګاونډيو هيوادونو ته د تګ پلانونه جوړول او هلته به د هجرت په موخه تلل.

د افغان اولس، خلک له يوې خوا يې لږې زدکړې درلودې او له بله خوا د بهرنۍ ژبې د پوهې کچه يې هم خورا لږه وه. په هيواد کې تخنيکي او مسلکي ښونځي هم لږ او يا هم د مجاهېدو په خپل منځي جګړو کې له منځه تللي، کتابتونونه يې هم لوټ شوي او يا هم سوځېدلی و.

کار موندنه د افغانانو له پاره په بل هيواد کې خورا ګران کار دی، مخصوصاً، زمونږ په ګاونډيو هيوادونو کې، کوم چې يې ښه اقتصاد نه درلود او اقتصادي حالات يې تر مونږ ښه نه و، دا هيوادونه يوازې يو توپير درلود کوم چې په ګاونډيو هيوادونو کې امنيت ښه و.

په هغې وخت کې زمونږ د ګاونډيانو پيسې د افغانۍ په پرتله ډيره او چته وه، خصوصاً د پاکستان هيواد چې زر روپې يې تقريباً دولس لکه افغانۍ کېدې.
هر چا به کوښښ کوه چې له خاورې و وځي او ګاونډ ملکونو ته لاړ شي، د هغوي دوی هدفونه وو:
۱. د شخړې او کورنۍ جګړو نه تېښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. د کار موندنه، نورو اروپايي هيوادو او امريکا ته تګ

په همدې توګه، زمونږ تر دوو ميليونو ډېر هيوادوال (مهاجرين) په ګاونډيو ملکونو او خاصتاً پاکستان هيواد کې شپې سبا کولې او تر اوسه هم هلته د مهاجرو په توګه کار او ژوند کوي.

زمونږ هيوادوال او مهاجرين،د پاکستان هيواد په بېلابېلو ښارونو کې اوسېدل، مګر ډېري يې د پېښور ښار په کمپونو کې  چې د ملګرو ملتونو په مالي مرستو او يا هم د ځينو جهادی تنظيمونو په ذريعه جوړ شوي وو، خپل ژوند تېراو.

د هغو جملې نه د ناصر باغ، کچه ګړی، شمشتو او نورو کمپونو نو مونه اخيستی او يادوی شو.

د پاس ياد شويو کمپونو د جملې څخه يو يې هم د کچه ګړی کمپ و، څرنګه چې د نوم څخه يې ښکاري، دا کمپ د اوسېدو له پاره مناسب نه و، مګر د افغانانو له پاره چې خپل هيواد يې د کورنۍ جګړو له کبله پريښی و، بله لاره نه درلوده، دا کمپ د يو ډاګ په شان و، ونې او شينوالی يې هم لږ و، په دې کمپ کې کومه، کومه ونه او يا د اغزو بوټي تر سترګو کېدل چې هغه هم خورا لږ و،

افغانان مجبور ول، د راشن (کوپون يا د ملګرو ملتونو مرستو) تر څنګ کار وکړي، تر څو ځان او کورنۍ ته نفقه برابره، خټينه کورګی جوړکړي تر څو چې خيمې د ژوند نه ځان وژغوري او پاکستان هيواد د دوبي لوړی تودوخي نه ځان او خپله کورنۍ وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی به مجبوره ول، تر ناوخته او ډېر شاقه کارونه وکړي، کوم يې چې په خپل هيواد کې نه و کړي.
دا هغه ستونزې وې، چې افغان ډېری مهاجر به ور سره لاس او ګرېوان و.
د دې کمپ ته مخامخ، د سړک نه بلې خوا پاکستان هيواد د پوليسو ښارګوټی و، چې په اساسې توګه د معمارۍ او ښار جوړونې نقشو په پام کې نيولو سره جوړ شوی و، د هوساينی ټول امکانات يې درلود او خورا زرغون (شين) و، دا ښکلې سيمه د پوليس کالوني په نوم مشهوره وه.

څرنګه چې و ويل شو، د کچه ګړۍ کمپ ډېر سپېره او د ژوند هيڅ آسانتياوي يې نه درلودي، مګر ژوند په دې کمپ کې د مجبوريت په اساس و، په ياد شوي کمپ کې ډېری افغانان پښتانه (٪۹۵) او ٪۵ يې د نور ژبو يا قامونو لکه :
تاجک، ازبک، بلوچ او نورو افغانانو په کې ژوند کاوه، په دې کمپ کې يو ځوان الک د خپلې کورنۍ سره اوسېده، چې نوم يې مسافر او تازه له افغانستان څخه مهاجر شوي و.
مسافر به د ورځې کار کاوه او مازيګر ناوخته به د کمکيو ځوانانو د کريکټ لوبو ډګر ته ته، چېرته چې نور افغان کريکټ مينه وال تلل.
ده او نور خلک به د کريکټ او واليبال لوبو ځای ته را غونډېدل او په مينه به يې د لوبو ښار(سيل) کاوه.
د پېښور ښار هوا د افغانستان په پرتله، ډېره توده وه. ده به په سختۍ سره کار کاوه، ګټه يې هم چندان ښه نه وه، خو مجبور و د راشن تر خوا کار وکړي.
وخت تېرېده او دی هم ورځ په ورځ لوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ده ته ښه صورت او ښایست ورکړی و، مګر اقتصادي ستونزه يې خورا ډېره وه.
د وطن حالت هم نا څرګندې لوري خوا روان و، څوک نه پوهېده چې سبا به څه وشي؟
مسافر به ورځ په ورځ دخپل کلي او هيواد سوچ کاوه او ويل به يې:

"داسې وخت به راشي چې زه بيا خپل هيواد ته لاړ شم، په خپلې پلارنۍ مېنې وګرځم او د هيواد دوستانو سره لوبې وکړم، خپل ښونځي ته لاړ شم او په پای کې يو تکړه ډاکتر يا انجينر شم، خپل هيواد او خلکوته مرسته وکړم".

د يوې خوا تودوخه او له بلې خوا له هيواده جلا والي به ورځ په ورځ په هغه نا سمه اغېزه کوله، او زړه به يې وروسته له کاره ډېر تنګېده ، مجبور و چې د وخت د تېرېدو له پاره د کريکټ او واليبال د لوبو ځای ته لاړ شي او خپله په کې هم برخه واخلي.

ژوند په همدا توګه تېرېده او د ده د زړه تنګوالی خورا ډېر شو. يوه د جمعې ورځ، چې هغه بازار ته تلی و، د کور له پاره يې سودا اخيسته، چې سترګې يې په يوې افغانۍ شپېلۍ و لګېدې.
مسافر شپېلۍ ته نږدې شو او ويې پوښتل:
دا شپېلۍ د ده ځای پيداوار ده اوکه چينايي ده.
پلورنکي و ويل:
**نه!**
دا د افغانستان نه يو مهاجر راوړې ده، ما ته يې راکړه چې هغه ته يې وپلورم.
مسافر پلورونکي ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای شي دا شپېلۍ وګورم؟
پلورونکي و ویل:
هو!
واخله!
مسافر شپېلۍ واخیسته، کته او پورته یې ورته وکتل، شپېلۍ خورا ښکلې وه.
بیایې یوه لنډه مصرع په کې و وهله:
پلورونکي ورته و ویل:
تا مخکی شپېلۍ وهلې ده؟
مسافرو ویل:
هو!
لږ، لږ.
پلورونکي ورته و ویل:
ته ډېره ښه شپېلۍ وهې!
بیا مسافر ورته و ویل:
بیه یې څو روپې (کلدارې) ده؟
پلورونکي و ویل:
دا اجازه یې ده او پای بیه یې را ته یوسلو پنځوس روپۍ (کلدارې) ویلې ده.
هغه جب ته لاس کړ او د جب ټولې پیسې یې شمار کړي، ټولې پیسې دري نه وي، روپې (کلدارې) شوې.
بیا یې پلورونکي ته و ویل:
زما سره ټولې پیسې ۹۳ روپۍ پاتې دي، په نورو پیسو باندې مې کور ته سودا واخیسته.
پلورونکي هغه ځوان ته وکتل او و یې پوښتل:
ځایی یې که مهاجر؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ویل:
مهاجر یم.
بیایې و پوښتل:
په کوم ځای کې شپې تېروې؟
ځوان و ویل:
په کمپ کې اوسېږم.
بیا یې و پوښتل:
یواځې یې او که کورنۍ دې هم درسره ده؟
هغه په ځواب کې و ویل:
له کورنۍ سره اوسېږم.
بیا یې زیاته کړه.
په کوم کمپ کې اوسېږې؟
ځوان و ویل:
د کچه کړۍ په کمپ کې اوسېږم.
پلورونکې په خندا شو او ویې ویل:
ډېر ښه!
هلته زما ملګري هم شته،
زمرک خو به پېژنې؟
مسافر و ویل:
هغه ترکاڼ زمرک ښیې؟
پلورونکي و ویل:
هو!
هغه زما ملګری دی.
هغه کله ناکله په پور سودا اخلي او کله چې پیسې تر لاسه کړي، بیا زما پور راوړي.
مسافر و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم کولای شم چې تاته د شپېلۍ اتیا روپۍ در کړم او نورې پیسې به کله چې پیسې تر لاسه کړم، تا ته به یې راوړم.
پلورونکي و ویل:
سمه ده!
دا ده شپېلۍ در سره واخله!
کله چې پیسې دې لاس ته راغلې، ماته او یا هم زمرک ته یې ورکړه، ماته رسېږي.
مسافر شپېلۍ واخیسته، خپل پښه یې په شا کړ، د پلورنکي نه یې خدای پاماني واخیسته او د بازاره و وت.
هغه مخ په کور روان شو، یوه ګړی وروسته خپل ختین کور ته و رسېد.
پښه یې په کور کې کیښود او حمام ته د ننه شو.
کوزه یې را وخیسته، کومه چې له اوبو ډکه وه، اودس یې وکړ بیا جومات لوري ته روان شو.

د لمانځه وروسته، بېرته کورته ستون شو، شپېلۍ یې واخیسته او د واسکټ په جب کې یې کیښوده او د کور نه د باندې شو.
وړاندی لاړ او په لاره کې یې خپل ملګری ولید، هغه سره یې روغبړ وکړ له روغبړ نه وروسته یې هغه ته و ویل:
ما نن یوه شپېلۍ واخیسته کومه چې زمونږ یو هیواد وال له هیواده راوړی وه او د پلور له پاره یې، زمرک ملګري ته ورکړې وه.
زما هم شپېلۍ خوښه شوه او دهغه نه مې په پلور واخیسته.
ملګري یې و پوښتل:
څنګه یې پر تا باور وکړ؟
هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له مانه ډېرې پوښتنې وکړې او له پوښتنې نه څرګنده شوه چې د کچه ګړی کمپ کې ژوند کوم او زمرک هم پېژنم.
بیا مې له جبه پیسې و ویستې، ومې شمېرلې، ټولې یې درې نوې روپۍ وې.
ما هغه ته و ویل چې:
اتیا روپۍ به یې اوس درکړم او نورې یې به وروسته درکړم.
خیر یوسې، هغه هم و منله او شپېلۍ مې ترې واخیسته، خدای مهربانه دی، کوم وخت چې پیسې مې لاس ته راغلې، هغه ته به یې و رکړم.
بیا ملګري یې ترې و پوښتل:
ته شپېلۍ وهلی شې؟
هغه و ویل:
هو!
بیا یې ملګري و ویل:
پیل کړه!
هغه په شپېلۍ وهلو پیل کړ.
ملګري یې و ویل:
بیشکه!
زنده باد!
زما در باندې یقیین نه راته.
ته خو په رښتیا ښه شپېلۍ وهې.
هغه و ویل:
ما په افغانستان کې هم شپېلۍ وهله
نو ځکه پرې پوهېږم.
بیا یې شپېلۍ بس کړه.
د جب نه یې دسمال و ویست او شپېلۍ یې پرې پاکه کړه او د واسکټ په بغل جب کې یې کېښوده او په خبرو اترو یې پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاره کې روان ول، د هغه غره او د دې غره خبرې يې کولې.
هغوی د لوبو ډګر خوا ته روان ول کوم چې نږدې او شاو خوا يې پخوا د نارنجو ونې وې.
دا د نارنجو ونې د نه پالنې له کبله وچې شوې وې او د وخت په تېرېدو سره سيمه په تش ډاګ اوښتې وه.
افغان مهاجر هم د لوبو له پاره کوم ښه ځای نه درلود، ناچاره ول چې هلته لاړ شي او خپل وخت تېر کړی.
له يوې خوا د هوا تود والی، له بلې خوا بې کسي، مهاجرت، له هيواده جلا والی، بې کوري او بې کاري دا هغه ټول شيان ول چې زمونږ افغانان ور سره مخ ول.
دوی په خبرو بوخت ول چې د ځو ځوانانو ځنګ ته نږدې شول، هغوی په کرېکټ لوبو بوخت ول.
دوی ورته نږدې شول او سلام يې واچاوه.
لوبغاړو سلام ته يې عليکم او ويې ويل:
ستړی مه شي!
په خير راغلي!
راځي!
مونږ سره په لوبه کې برخه واخلي، زمونږ ملګري نن لږ دي.
د هغه ملګري و ويل:
سمه ده.
دا دی واسکټ مې دلته کيږدم.
هغه واسکټ کيښنود.
او ملګري ته يې و ويل:
راځه!
ته هم راشه!
ملګري يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په کریکټ نه پوهېږم، څنګه لوبه وکړم؟
هغه ځواب ور کړ:
دا لوبه آسانه ده!
مونږ د هغوي سره د توپ په نیولو کې مرسته وکړو، هم به سپورت شي او هم به لږ وخت تېر شی.
هغه و منله.
خپل واسکټ یې له ځانه و یوست، د ملګري واسکټ تر خوایې کېښود او د لوبو ډګر ته ننوت.
ده به کله یوې او کله بلې خوا د توپ پسې منډې وهلې، بیا به یې توپ و نیو او بل کس ته به یې وا چاوه.
و خت تېر شو او هوا هم لږ تیاره شوه، لوبغاړو پرېکړه وکړه چې لوبه ودروي.
هغوي لوبه ودروله او ټول هغه ځای ته روان شول، چې دهغوي جامې وې.
لوبو ډګر په دو ړو سپېره ول، خپل کالې یې وڅنډل، د لوبې وسایل یې سره واخیستل او خپلو کورونو لوري ته روان شول.
هغوی هم دواړو خپل واسکټونه واغوستل او د نورو سره یو ځای د کمپ لوري ته روان شول.
مسافر ډېر ستړی شوی و، ځکه توپ په سې یې ډېرې منډې وهلې وي.
هوا تیاره کېده او لوبو ډګر هم کمپ ته نږدې کېدل.
د ماښام د لمانځه آذانونه تر غوږو کېده او دوی هم خپله چالاکي ډېره کړه، تر څو چې د جمعې وخت ته ځانونه ورسوي.
هغوی کمپ ته ورسېدل، چا چې اودس درلود، جومات ته د لمانځه له پاره ننوتل او چا چې اودس نه درلود خپلو کورونوته لاړل تر څو اودس بیا لمونځ وکړي.
مسافر هم خپل هستوګنځای ته ننوت تر څو اودس بیا، لمونځ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................................

هغه ډېر ستړی و، ځکه چې نن یې ډېرې منډې وهلې وې او خورا تږی شوی هم و.
خور ته یې غږ کړ:
ته لږ چای دم کړه، زه به اودس بیا لمونځ وکړم.
خور یې ځواب ور کړ:
سمه ده وروره!
ته تر ځو چې اودس او لمونځ کوې زه تاته چای دمه وم.
بیا مسافر و ویل:
خیر یوسې خورې!
هغه خټینه کوزه واخیسته او له اوبو نه یې ډکه کړه.
بیا حمام ته ننوت، اودس یې وکړ، بیا خپرې ته نږدې شو .
خپل ځادر یې واخیست، اوار یې کړ او د ماښام لمونځ یې وکړ.
خور یې ولید چې مسافر لمونځ خلاص کړ، تازه شین چای یې ورته راوړ.
هغې مسافر ته په پیاله کې چاي واچوه او ویې ویل:
خوږه در ته راوړم؟
مسافر و ویل:
هو!
لږ ګړه راوړه، ډېر تږی یم.
هغې ژر ګړه راوړه او مسافر په چای ځښلو پیل کړ.
د مسافر د کورنۍ نور غړي هم را ټول شول، لوی پوزی یې اوار کړل، ترټک یې پرې کیښودل او با لښتونه یې هم راوړل.
خور یې مسافر ته و ویل:
پاسه وروره!
پر ترټک کینه!
ته نن ډېر ستړی شوی یې، تا ډېرې منډې وهلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورور یې له ځایه پاڅېد او پر ترټک کیناست، خور یې بالښت واخیست او د هغه تر څټ یې کیښود.
ورور یې مننه وکړه او ډیر خوشحاله شو.
څه وخت تېر شو، ماسخوتن شو.
د شپې ډوډۍ تیاره شوه، د لاس اوبه راوړل شوې، ټولو لاسونه پریمنځل.
دستر خوان اوار شو او کتغ هم پرې کیښودل شو.
ټولو ډوډۍ ته پیل کړ.
ډوډۍ یې و خوړه او خوریې چای راوړ.
هغوي چای و څښه او مسافرهم د نن ورځې د کریکټ د لوبو کیسه پیل کړه.
ټولو ورته غوږ نیولی و.
بیا نارینه د ماسخوتن لمانځه ادا کولوله پاره جومات لوري ته روان شول.
لمونځ یې په جمع ادا، بیا وروسته کورته ستانه شول.
مسافر ډیر ستړی شوی و، خپل ترټک یې اوار کړ او بالښت یې سر ته کیښود، خپل څادر یې پر ځان وغوړاوه او ویده شو.
سهار وختي له خوبه ویښ شو او جومات خوا ته لاړ.
لمانځه نه وروسته ستون شو، بیا یې د سهار چای و څښه او له کوره د باندې شو.
وروسته خپل ملګري کور خوا ته روان شو چې دکار موندلو په هکله خبرې وکړي.
مسافر د ملګري کورته و رسېد.
دروازه یې و ټکوله؛
ملګری یې د باندې شو او هغه ته یې د کور راتګ بلنه ور کړه.
هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مننه!
راځئ چې چکر و وهو او و ګورو، کوم کار پیدا کړو.
هغوی د سیمې هټیو خوا ته روان شول.
څه ځنډ وروسته، هغوي د سیمې بازار ته و رسېدل او یوی څپرې لاندې د چای پلورلو هټی خوا ته کیناستل.
چایچي راغی او له هغوي نه يې پوښتنه وکړه:
شین چای راوړم که تور؟
مسافر و ویل:
شین چای.
بیا چایچي و پوښتل:
بوره راوړم که ګړه؟
مسافر خپل ملګري نه و پوښتل:
تا ته څه شی راوړی؟
ملګري یې و ویل:
ما ته توره ګړه.
بیا مسافر زیاته کړه، ملګری ته می توره ګړه او ما ته لږ بوره راوړه.
چایچي و ویل:
سمه ده!
لږ ځنډ وروسته چایچي چای راوړ او د دوی تر مخ یې کیښود.
دوی په پیالو کې چای واچاوه او په غورو یې پیل کړ.
کله به یې ویل:
راځه چې یوه کراچۍ پیدا او پر هغې باندې میوه او یا هم ترکاري و پلورو.
ملګري یې و ویل:
دا خو ډیر ښه سوچ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی کوښښ وکړو چې یوه کراچۍ پیدا کړو، بیا به تصمیم و نیسو چې، څه پرې خرڅ کړو.
ملګري یې و ویل:
زما یو بل ملګری هم په کراچۍ ګړه خرڅوي، زه به له هغه څخه پوښتنه وکړم چې، په څه کې ډېره ګټه ده.
مسافر و ویل:
سمه ده.
هغوی خبرې کولې او هم یې چای څښل.
د هغوی قصې خوړې لکه شکرې وې.
بیا د چایچي شاګرد راغی او له هغوي نه یې پوښتنه وکړه:
بل چای راوړم؟
د مسافر ملګری و ویل:
نه!
بس ده.
بیا هغوي خپلو نکلو ته دوام ور کړ.
وخت تېر او غرمه نږدی شوه، مسافر ګړۍ ته وکتل او ویې ویل:
اوه!
یولس بجې شوې.
د غرمې ډوډۍ وخت ورسېد.
ملګري یې و ویل:
هو!
راځه چې کور ته لاړ شو، په لاره کې به لږ یخ واخلو او کور ته به یې، یوسو.
هغوي له ځایه پا څېدل او کور خواته روان شول.
لومړی مسافر د ملګري کور ورسید او هغه مسافر ته و ویل:
راځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرمه له ما سره تېره کړه!
بيا مازيګر به لوبو ډګر ته يو ځاى لاړ شو.
هغه و ويل:
مننه کوم.
زه په کور کې څه کار لرم، بيا به مازيګر خپله شپېلۍ واخلم او لوبو ډګر ته به لاړ شم.
ملګرى يې و ويل:
سمه ده !
ستا خوښه!
مسافر خداى پاماني واخيسته او خپل کور خواته روان شو.
هغه کور ته د ننه شو او تر څپرې لاندې کيناست.
بيا يې خپل پلان شوي کار، سر ته ورسو.
مازيګر شو او مسافر هم خپله شپېلۍ واخيسته.
هغې ته يې وکتل او بيا يې د واسکټ په جب کې کېښوده او له کوره د باندې شو.
هغه لوبو ډګر خوا ته روان شو.

لومړى يې د واليبال ننداره وکړه بيا وروسته تر تياره کېدو، مخ په پوليس کالوني، روان شو.
دا ځاى خورا ښکلى او ډير شين (زرغون) و.
هغه د سړک نه وا وښت، يوى پولې ته نږدې او تر ونې لاندې کيناست.
شپېلۍ يې له جبه و وېسته او په غږولو يې پيل کړ.
هغه ډيره ښه شپېلۍ وهله او په شپېلۍ کې به يې دا سندره ويله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................................

بیا که بریم به مزار ملا ممد جان
سیل گل لاله زار وا وا دلبرجان

بیا که بریم به مزار ملا ممد جان
سیل گل لاله زار وا وا دلبرجان

برو با یار بگو یار تو آمد
گل نرگس خریدار تو آمد
گل نرگس خریدار تو آمد

برو با یار بگو چشم تو روشن
همان یار وفا دار تو آمد
همان یار وفا دار تو آمد

بیا که بریم به مزار ملا ممد جان
بیا که بریم به مزار ملا ممد جان

سیل گل لاله زار وا وا دلبرجان
سیل گل لاله زار وا وا دلبرجان

بیا ای یار که مجنون تو هستم
خراب لعل میگون تو هستم
خراب لعل میگون تو هستم

نمی بوسم لب پیمانه ای می
پرشان و جگر خون تو هستم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرشان و جگر خون تو هستم

بیا که بریم به مزار ملا ممد جان
بیا که بریم به مزار ملا ممد جان

سیل گل لاله زار وا وا دلبرجان
سیل گل لاله زار وا وا دلبرجان

سر کوی بلند فریاد کردم
علی شیر خدا را یاد کردم

علی شیر خدا یا شاه مردان
دل نا شاد ما را شاد گردان

بیا که بریم به مزار ملا ممد جان
بیا که بریم به مزار ملا ممد جان

سیل گل لاله زار وا وا دلبرجان
سیل گل لاله زار وا وا دلبرجان

علی شیر خدا دردم دوا کو
مناجات مرا پیشی خدا کو

چراغ های روغنی نظر ته میتم
به هر جا عاشقه دردش دوا کن

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا که بریم به مزار ملا ممد جان
بیا که بریم به مزار ملا ممد جان

سیل گل لاله زار وا وا دلبرجان
سیل گل لاله زار وا وا دلبرجان

او کله به یې هم دا پښتو سندره غږوله، کومه چې د هیواد په هکله او حماسي سندره وه.

دا وطـــــن ودان وطـــــن
دا د لـــوي افـــغـــان وطـــن
دا پـــه مـــونـــګـــه ګـــران وطـــن

خاوره د غیرت ده زلزلې لري طوفان لري
غرونو کی بازان لري
خاوره د غیرت ده زلزلې لري طوفان لري
غرونو کی بازان لري

ستا په لوړو غرونوکې
شور دې په سیندونوکې
مینه یې په زړونوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په لوړو غرونوکې
شور دې په سيندونوکې
مينه يې په زړونوکې
ښکاري يې دغرو اوچت سرونه د اسمان سره
ننګ او د ايمان سره

ښکاري يې دغرو اوچت سرونه د اسمان سره
ننګ او د ايمان سره

دا وطن ودان وطن
دا د لوي افغان وطن
دا په مونګه ګران وطن
خاوره د غيرت ده زلزلې لري طوفان لري
غرونو کی بازان لري
خاوره د غيرت ده زلزلې لري طوفان لري
غرونو کی بازان لري

اوسي افغانان په کې
نسل قهرمان په کې
واړه سربازان په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

اوسي افغانان په کې
نسل قهرمان په کې
واړه سربازان په کې

ښکاري يې دغرو اوچت سرونه د اسمان سره
ننګ او د ايمان سره
ښکاري يې دغرو اوچت سرونه د اسمان سره
ننګ او د ايمان سره

دا وطن ودان وطن
دا د لوي افغان وطن
دا په مونګه ګران وطن
خاوره د غيرت ده زلزلې لري طوفان لري
غرونو کی بازان لري
خاوره د غيرت ده زلزلې لري طوفان لري
غرونو کی بازان لري

مسافر به تر ماښام ناوخته شپېلۍ وهله او یوازی به ناست و.
بیا به د کور خوا ته روان شو.
دا کار، ده ته عادت وګرځېد او هر ماښام به خپل ټاکلی ځای ته ته، ځکه چي داسې زرغون (شین) ځای په سیمه کې نه و.
هغه به کله ناکله پښتو لنډی او سندرې هم غږولې.
څرګنده ده چی، د شپې له خوا غږ تر ډېرو لرې ځایونو، تر درې سوو مترونو نه هم لرې ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................................

دا راز د هغه د شپېلۍ غږ تر پوليسو کورونو پورې هم ته او د نږدې ودانۍ خلکو هم کولای شو واورې.
يوه ورځ د يو لوی افسر لور د ودانۍ بالکن ته و وته او د شپېلۍ غږ يې تر غوږو شو.
هغه څو دکيکې (دقيقی) ودرېده او شپېلۍ ته يې غوږ ونيو.
د شپېلۍ غږ خورا په زړه پورې و.
هغې دې خوا او هغې خوا، وکتل او څوک يې تر سترګو نه شو.
څو دکيکی ودرېده بيا د شپېلۍ غږ بند شو.
هغې ګړی ته و کتل او وخت يې له ځانه سره بند کړ.
بيا بېرته کوټې ته د ننه شوه.
سبا ماښام بيا په هماغه ټاکلي (بند شوي) و خت و وته او د شپېلۍ غږ يې واورېد.
ډېره خوشحاله شوه او د شپېلۍ و هلو تر پايه هلته ودرېده.
بله ورځ لږ وخته له کوټې و وته او د شپېلۍ وهلو منځ وخت يې و موند.
بيا به ورو ورو خپل وخت بدلاو او مخ کې به راوته تر څو چې د شپېلۍ وهلو پيل وخت يې و موند.

مسافربه هم په ټاکلی وخت راته، د شپېلۍ په وهلو به يې پيل کاوه، په خپل وخت به يې شپېلۍ ته د پای ټکی ايښود او کور ته به ته.
هغه نه پوهېده چې د شپېلۍ غږ تر هستوګنو کورنو پورې ځي.
مسافر عادت کړ چې، هر ماښام به هلته ځي.
د افسر لور هم په ټاکلي وخت له کوټې بالکن ته وته او د شپېلۍ غږ ته کيناسته، تر څو چې پای ته و رسېږی.
مسافر به کله نا کله چېرته ته او يا يې په وادونو کې ګډون کاوه، په داسې ماښام به نه توانېده چې هغه ځای ته لاړ شي او شپېلۍ و وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر جلۍ به هر ماښام په ټاکلي وخت بالکن ته وته او د شپېلۍ وهلو انتظار به یې کاوه.
هغه ورو ورو د شپېلۍ په غږ مینه (مه ینه) شوه.
که چېرې کوم ځای ته به له کورنۍ سره تله، کوښښ به یې کاوه چې ځان ماښام بېرته، کورته ورسوي تر څو د شپېلۍ وهلو غږ ورنه تېر نه شي.
کله به هم د دوستانو کور کې پاتې کېده، شپه به پرې ښه نه تېرېده او تر سهاره به یې د شپېلۍ د غږ سوچ کاوه.
یوه ورځ هغې له ځانه سره سوچ وکړ:
دا سړی به څوک وي؟
مګر هغه نه پوهېده چې شپېلۍ وهونکی، مسافر او افغان مهاجر دی.
ماښامی شپېلۍ وهل دوام پیدا کړ.
وخت به تېرېده.
یوه ورځ چې کورنۍ یې په کور کې نه وه، له ځانه سره یې تصمیم و نیوه چې دا شپېلۍ وهونکی پیدا کړي او هغه د نږدې وګوري.
تر هغه پوښتنه وکړي چې دا شپېلۍ یې د چا نه زده کړې او ولې دلته شپېلۍ وهي؟
ستونزه یې څه ده؟
آیا مین (مه ین) شوی دی؟
د کوم ځای څخه دی؟
او داسې نورې پوښتنې یې په زړه کې تېرېدې.
لږ ځنډ وروسته یې تصمیم و نیو چې یو لنډ لیک ورته واستوي او پوه شی.
یو څه یې په لیک کې ولیکل، بیا لاندې کته شوه.
د خپلې خورړنې کور خوا ته لاړه او دروازه یې و ټکوله.
د خورړنې کوشنې ورو، دروازه خلاصه کړه او سلام یې ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې سلام ته وعليکم و وايه او پوښتنه يې وکړه:
نازی په کور کې ده؟
هغه و ويل:
هو!
هغه په کور کې ده.
بيا جلۍ هغه ته و ويل:
هغې ته غږ کړه.
هغه و ويل:
سمه ده !
اوس دستي!
الک کورته د ننه شو او خپلې خور ته يې غږ کړ.
نازی دروازې ته راغله او له خورړنې سره يې روغبړ وکړ.
نازی هغې ته د کور ننوتو بلنه ورکړه.
دوی کور ته د ننه شوې، سم دلاسه جلۍ کاغذ و ويست او نازی ته يې
و ويل:
دا کاغذ خپل ورور ته ورکړه، چې شپېلۍ وهونکي ته يې ورکړي.
نازی پوښتنه وکړه:
کوم شپېلۍ وهونکی؟
جلۍ زياته کړه، دلته کوم څوک هر ماښام شپېلۍ وهي.
نازی و ويل:
هو!
زه هم کله، کله د شپېلۍ غږ اورم.
په رښتيا چې هم ښه، خوږه او په زړه پورې شپېلۍ وهي.
بيا يې جلۍ ته و ويل:
مينه شوې خو به نه يې؟
جلۍ و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه!
یوازې غواړم چې و پوهېږم.
څوک او ولې شپېلۍ وهي.
نازی خپل ورور ته غږ او ورته یې و ویل:
دا کاغذ واخله، شپېلۍ وهونکی پیدا کړه او ورته یې ورکړه.
بیا جلۍ زیاته کړه.
ور ته و وایه ځواب یې ولیکه او سبا دا وخت به یې له تا نه واخلم.
الک و ویل:
سمه ده.
بیا خور یې و ویل:
دا موضوع له ځانه سره وساته او چاته به یی نه وایي.
الک و ویل:
سمه ده!
لیک یې واخیست او له کوره بهرشو.
ډېر وګرځېد تر څو شپېلۍ وهونکی ومومي کړي.
الک شپېلۍ  وهونکی وموند او کاغذ یې ورته ورکړ.
الک بیرته  کور ته روان شو.
شپېلۍ وهونکی کاغذ خلاص کړ.
تیاره وه،
لیک، ښه نه لوستل کېده.
له ځایه پاڅېد او یوې روښانه کوڅې ته نږدې شو، تر څراغ لاندې ودرید، تر څو لیک ولولي.
په لیک کې لیکل شوي و:
سلام وعلیکم!
کولای شم تا له نږدې و وینم؟
وروسته هغه لیک په جب کې کېښود او کور خوا ته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور ته ورسید.
دشپې ډوډۍ یې و خوړه، وروسته یې لمونځ بیا ویده شو.
سهار شو.
ورځ د تل په څېر تېره شوه.
مازیګر شو،
بیا یې کاغذ را واخیست او د سوال په ځواب کې یې ولیکل:
**هو!**
**ولې نه!**
کوم ځای چې ته، ټاکې.
کاغذ یې جب ته کړ، شپېلۍ یې واخیسته، د تل په څېرېې واسکت په جب کې کیښوده او له کوره و وت.
بیا د خپلې خوښې ځای لورې روان شو.
ځای ته ورسید.
ښپېلۍ یې له جبه و ویسته او په وهلو یې پیل کړ.
جلۍ چې د شپېلۍ غږ واورید، له کوره کته شوه او خپلې خورړنې (نازی) کورته لاړه.
ګورې چې د نازی ورور لوبې کوې.
هغه نږدې شوه او د نازی ورور ته یې په غوږ کې و ویل:
کولای شې چې هغه شپېلۍ وهنوکې څنګه لاړ شې؟
هغه و ویل:
**هو!**
ستونزه نشته.
بیا جلۍ و ویل:
لیک ترې واخله او هغه به نازی ته ورکړئ.
بیا نازی به یې ماته راکړي.
الک و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده!
الک شپېلۍ وهونکي پسې او جلۍ کورته لاړه.
الک شپېلۍ و هونکي ته ورسيد او سلام يې ورکړ.
مسافر سلام ته وعليکم و ويل:
بيا يې کاغذ له جبه و ويست او الک ته يې ورکړ.
الک هم کاغذ واخيست او کور خواته روان شو.
الک کورته ورسېد.
د کور مخ ته، ملګرو يې انتظار کاوه.
بيا هغه خپلو ملګرو ته و ويل:
زه کور ته ځم او ژر بېرته راځم.
تاسو لوبې پيل کړئ.
کوشنيانو لوبه پيل کړه او الک کور ته د ننه شو.
نازی ته يې غږ کړ.
هغه په پخلنځی کې وه.
هغې و ويل:
دلته راشه!
پخلنځي ته!
هغه پخلنځی ته د ننه شو او کاغذ يې نازی ته ورکړ.
الک د کوره د باندې شو او ملګرو سره يې لوبې ته دوام ورکړ.
شپه تېره شوه او سهار شو.
نازی له کوره و وته او خورړنې کورته لاړه.
ور يې وټکاوه.
خورړنه يې دروازه خلاصه کړه او نازی ته يې د کور راتګ بلنه ورکړه.
نازی کور ته ننوته او اوسېدو (سالون) کوټې ته د ننه شوه، پر څوکۍ کېناسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوړړنې يې د شيدو چاى راوړ او نازى ته يې مخامخ پر ميز کېښود.
نازى مننه وکړه بيا لږ وروسته يې کاغذ هغې ته ورکړ.
هغى کاغذ خلاص او لوست.
هغه خوشحاله شوه.
نازى هم د شيدو چاى و څښه او کور ته لاړه.
جلۍ په سوچ کې وه،
څه وخت؟
کوم ځاى د ليدو له پاره وټاکي؟
څو ورځې تېرې شوې.
بيا جلۍ تصميم و نيو چې له الکه نظر واخلى او هغه مناسب ځاى د ليدو له پاره و ټاکي.
بيا يې بل ليک وليکه، هغې و غوښتل چې د نازى د ورور په ذريعه يې شپېلۍ وهونکي ته ورسوي.
ورځ په سختۍ تېره شوه او ماښام شو.
جلۍ ليک واخيست او د نازى کور ته روانه شوه،
هغه کور ته ورسيده، دروازه يې وټکوله.
نازى دروازه خلاصه کړه.
جلۍ ليک نازى ته ورکړ او ورته يې و ويل:
ورور ته دې ورکړه چې، شپېلۍ وهونکي ته يې ورسوي.
نازى هغې ته د کور د ننوتو بلنه ورکړه.
جلۍ و ويل:
مننه کوم.
اوس څه کار لرم، بيا به سبا راشم.
جلۍ خپل کور ته لاړه او نازى هم دروازه وتړله.
لږ وروسته د نازى ورور راغى، نازى ورته ليک ورکړ.
بيايې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لیک شپیلۍ وهونکي ته ورسوه.
او ورته و وایه چې ځواب یې و لیکي.
هغه و ویل:
سمه ده!
الک روان شو، شپیلۍ وهونکي ته ورغي او لیک یې ورته وسپاره.
الک بېرته راغی.
مسافر لیک خلاص او ولوست.
بیا یې شپیلۍ په جب کې کېښوده او کور ته روان شو.
کورته ورسېد.
د شپې ډوډۍ یې وخوړه، د لمانځه نه وروسته خپل خوب ځای ته لاړ، سر یې پر بالښت کیښود او سوچونه یې پیل کړل.
کله به یې ویل:
وبه لیکم چې د هغې ونې لاندې، چېرته چې زه شپیلۍ وهم.
بیا به یې سوچ کاوه چې، هلته کومه ستونزه منځ ته را نه شي، ځکه چې هغه ځای د پولیسو هستوګنې (کالوني) ځای دی.
سهار شو.
شپه یې په سوچونو کې تېره کړه.
وروسته د سهار د چای څښلو څخه، له کوره و وت او سړک خواته لاړ تر څو یو مناسب او د پولیسو د هستوګن ځای نه لرې او د کچه ګړۍ کمپ ته نږدې، کوم روښانه ځای و مومي.
څو ساعته یې تېر کړل .
اخوا او دېخوا یې نظر اچوه تر څو لنډ ځای و مومي.
د روغتون د لیدو سره یې ښه سوچ ور په برخه شو.
په زړه کې ډېر خوشحاله او ویې ویل:
دا دی، خدای ښه ځای وښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چا پوښتنه وکړه، ورته به و وايم چي، دلته د رنځور پوښتني له پاره راغلی يم.
دا د حضرت صبغت الله مجددی روغتون و.
مسافر روغتون ته د ننه شو او د روغتون په انګړ کې و ګرځېد، بيا وروسته د باندې او کورته لاړ.
د غرمې دوډۍ يې په خورا خوشحالۍ سره وخوړه او د ځپرې سيوری ته کيناست.
مازيګر شو، هوا هم مخ په تيارېدو او ماښام نږدې شو.
مسافر له کوره و وت او د خپل ماښامي ځای لوري ته روان شو.
ټاکلی ځای ته ورسېد او د پولې په سر کيناست.
کاغذ يې له جبه و ويست او ليکنه يې پيل کړه.
ويې ليکل:
زما له نظره، مناسب ځای د ليدو له پاره د حضرت صبغت الله مجددی روغتون دی، کوم چې له ما او تا ليدو له پاره ډير مناسب ځای دی.
دا ځای ستاسو له کورونو نه لرې او ماته لږ څه نږدې دی.
او که ته، تر ما کوم غوره ځای ټاکې، زه به هرو مرو درځم.
ليک يې په جب کې کېښود، شپېلۍ يې و وېسته او په وهلو(غږولو) يې پيل کړ.
جلۍ چې د شپېلۍ غږ واوريد، له کوره بهر شوه او د نازی کور خوا ته روانه شوه.
د نازی د کور مخې ته يې د هغې ورو وليد، کوم چې په لاس کې يې د چرګې هګۍ وې.
الک نږدې شو او جلۍ ته يې سلام ورکړ.
هغی سلام ته وعليکم و ويل:
بيا يې د نازی ورور ته و ويل:
کولای شې چې د شپېلۍ وهونکي ځنګ ته لاړ شې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



الک و ویل:
هو!
اول به هګۍ کورته ورسوم بیا به لاړ شم.
جلۍ مننه وکړه او خپل کور ته روانه شوه.
الک هګۍ کورته یوړې او بېرته و وت.
الک د شپېلۍ وهونکې خوا ته لاړ.
هغه شپېلۍ وهونکی ولید.
سلام یې ورکړ،
مسافر ډېر خوشحاله شو، او سلام ته یې علیکم و ویل، بیا یې زیاته کړه چې:
دا لیک هغې جلۍ ته ورسوه.
هغه و ویل:
سمه ده!
رایې کړه!
مسافر لیک ورکړ.
الک لیک واخیست او کور خوا ته روان شو.
کورته ورسید او لیک یې نازی ته ورکړ.
شپه تېره شوه، سبا شو.
نازی د خوړړنې کور ته ورغله، په لاره کې جلۍ د نازی مخې ته راغله.
هغوی روغبړ وکړ، نازی لیک هغې جلۍ ته وسپاره، د هغې نه یې خدای پاماني واخیسته او بېرته، کورته راغله.
جلۍ لیک ولوست، ډېره خوشحاله شوه.
د شپې یې خوب و نه کړ، سهار شو، بیا یې تر ماښامه انتظار وکړ.
تاکلی وخت په نږدې کېدو او د جلۍ زړه په رپېدو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له کوره و وته، ریکشا کې کېناسته او روغتون خوایې حرکت وکړ.
لږ ځنډ وروسته هغه روغتون ته و رسېدi او له ریکشا کته شوه.
دروازې نه، انګړ ته د ننه شوه او تر یوی ونې لاندې ودرېده.
په دې وخت کې، مسافر هم انګړ ته ننوت او د شاوخوا په لیدو یې پیل کړ.
ډیره سخته شېبه وه.
ځکه دوی یو بل نه پېژندل، نه هم په هغه وخت کې موبایل ټیلفون و، چې د هغه په وسیله یو بل پیدا کړي.
څه وخت تېر شو چې سترګې یې پر یوې ښکلې جلۍ ولګېدې.
داسې معلومېده چې د چا انتظار کوي.
مسافر څو دکیکې خپل ځای کې ودرید او د هغې په ننداره شو.
جرأت یې نه کاوه چې هغې ته نږدې او ترې پوښتنه وکړي .
هغه هم نه پوهېده، کوم څوک چې د هغې ننداره کوي، هماغه شپېلۍ وهونکی دی.
یو څه وخت تېر شو، په یاد یې راغی چې شپېلۍ له جبه وباسي او په لاس کې یې ونیسي.
که چېرې هماغه جلۍ وي، پوهېږي چې زه یم.
شپېلۍ یې له جبه و ویسته او په لاس کې یې ښکاره و نیوه.
په دې وخت کې د جلۍ، شپېلۍ ته پام شو،هغه پوه شوه چې دا هماغه شپېلۍ وهونکی الک دی.
هغه ته یې اشاره وکړه چې نږدی را شي
هغه نږدی شو او جلۍ ته یې سلام ور کړ.
هغې هم سلام ته وعلیکم و ویل .
مسافر د هغې مخې ته ودرید او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا غوښتل چې له ما سره وګورې؟
هغې و ویل:
هو!
ما غوښتل.
بیا مسافر و ویل:
اورم !
څه دې ویل؟
الک ډېر ښکلی و، خدای پاک ورته ښایست او ښه ځواني ورکړې وه، جلۍ د الک تر اغېزې لاندې راغله او زړه یې په ډبه هاري شو.
ژبه یې بنده، بنده شوه او ویې ویل:
د کوم ځای یې؟
هغه و ویل:
د افغانستانه راغلی یم.
هغې و ویل:
نوم دې څه دی؟
هغه و ویل:
مسافر!
بیا یې وپوښتل:
چېرې ژوند کوې؟
هغه و ویل:
په کمپ کې.
بیا یې و پوښتل:
په کوم کمپ کې؟
مسافر و ویل:
د کچه ګړۍ په کمپ کې.
مسافر هم د جلۍ تر اغېزی لاندې راغئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه هغه هم ښکلې او پښتنه پېغله وه.
بيا جلۍ و پوښتل:
څه کار اوبار کوې؟
هغه و ويل:
وزګاريم، کله ناکله په منډه يې کې مزدوري کوم، بيا مازيګر د لوبو ننداره ته ځم، ماښام راځم د ستاسو ودانيو ته څېرمه شپېلۍ وهم او خپل غم پرې لرې کوم.
جلۍ موسکۍ شوه او هغه ته يې و ويل:
ته ښکلې شپېلۍ وهې!
زه ستا د شپېلۍ د اوريده له پاره کوټې نه بالکن ته وځم، تر پايه يې اورم، کله چې ته شپېلۍ بنده کړې، بيا پوهېږم چې ته کور ته ځې.
ما سوچ کاوه چې ته پېښورى يې،
اوس پوه شوم چې ته مهاجر او افغانى يې.
په دې وخت کې ګڼه ګونه ډېره شوه او جلۍ له هلکه خداى پاماني واخيسته او د شفاخانې نه د باندې شوه.
جلۍ ريکشا ودروله، په هغې کې کيناسته او کور لوري ته روانه شوه.
الک په خپل ځاى کې ولاړ و، هغې په سې يې کتل تر څوچې له دروازې و وته.
مسافر ډېر په سوچ کې شو، او په زړه کې يې و ويل:
عجيبه پېښه وه!
هيڅ نه پوهېږم!
بيا يې و ويل:
د پېښې نه، تېښته نشته!
څه چې د خداى رضا وي.
بيا له دروازې نه و وت او په پښو کور لوري ته روان شو.
جلۍ هم کورته ورسيده، زړه يې بې کراره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار د شیدو چای خوړو نه وروسته خپلې خوررڼې کورته ورغله، د هغه الک په هکله یې خپلې خوررڼې ته کیسه وکړه او زیاته یې کړه:
هغه ډېر ښه، جګ ځوان او ښکلی و، مګر هغه مهاجر دی، د کچه ګړۍ په کمپ کې، اوسېږی.
خوررڼه یې په خندا شوه او ویې ویل:
شپېلۍ و هونکې دې خوښ شو؟
هغې و ویل:
هو!
بیا جلۍ و ویل:
ما سوچ کاوه چې هغه به زمونږ هیواد وال وي، هغه مهاجر و.
بیا خوررڼې یې و وېل:
څنګه په سوچ کې شوې؟
لکه چې الک دې ډیر خوښ شو؟
هغی و ویل:
زه خو د هغه په شپېلۍ وهلو مینه شوې وم.
بیا خوررڼی یې و ویل:
او س په هغه مېنه شوې؟
هغه موسکۍ شوه او ویې ویل:
نه!
هیڅکله!
هغه یو مهاجر دی.
زه یوازی د هغه په شپېلۍ وهلومېنه شوې یم.
خوررڼې یې و ویل:
وګورو!
بیا خوررڼې یې غږ کړ:
څه سوچ کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



چای دې سوړ شو.
هله!
چای دې و څښه!
هغې پیاله واخیسته او سوړ چای یې و څښه.
بیا له ځایه پاڅېده او خوررڼې ته یې و ویل:
زه کور ته ځم.
خوررڼي یې هغه تر دروازې ورسوله، دروازه یې خلاص او دباندې شوه.
جلۍ کورته لاړه، هر ماښام به یې د شپېلۍ غږ په مینه اورېده او تر پایه به بالکن کې ناسته وه.
څه وخت تېر شو، د هغې په زړه کې د هلک مینه پېدا شوه، هغې به کوښښ کوه چې هغه له زړه وباسي، یوازې د شپېلۍ د غږ په اورېدو قناعت وکړي.
الک هم د جلۍ په اړه سوچ کول پیل کړ او له ځانه سره به یې ویل:
زه او هغه جلۍ!
هیڅ امکان نه لري.
مسافر د شپېلۍ وهلو ته دوام ور کړ.
ورو، ورو د هغه په زړه کې د جلۍ مینه پېدا شوه.
کوم وخت چې جلۍ د شپېلۍ غږ واورېد، زړه به یې په ډبه هاري شو، د هلک ځواني به ور په یاده شوه او له ځانه سره به یې وېل:
ځومره ښه ځوان، ځومره با ادبه، خپل رښتیا یې و ویل، او  و نه یې غوښتل چې ما ته دروغ و وایي.
وخت تېر شو.
جلۍ و غوښتل چې بیا د هلک سره و وینی.
لیک یې ولیکه، د خوررڼی وروړ ته یې ورکړ، چې شپېلۍ و هونکي ته یې ور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الک هم لیک شپېلۍ  وهونکي ته وسپاره.
مسافر لیک واخیست او ویې لوست.
بیا یې په پای کې ولیکل:
سمه ده !
ماښام!
همالته!
روغتون کې!
په انګړ کې!
تر ونې لاندې!
بیا یې لیک الک ته ورکړ او و یې ویل:
دا دی!
دا بیرته جلۍ ته ور کړه!
الک لیک واخیست او روان شو.
جلۍ په بالکن کې ناسته وه .
هغه د خوروړنی د ورور په انتظار کې وه چی کله به راشئ؟
الک له ورایه ځرګند شو.
هغه خوشحاله شوه او دروازې خوا ته لاړه.
مخکې تر دې چې هلک دروازه وټکوي، هغې ور پرانیست او ودریده.
الک ورسېد.
جلۍ اخوا دیخوا وکتل.
څوک نه ښکارېده!
الک ته یې و ویل:
راکړه!
الک، لیک ورکړ او روان شو.
جلی دروازه وتړله.
پخلنځي ته لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیک یې خلاص کړ او ویې لوست.
بیا یې بې اختیاره د الک ځواب ښکل کړ؛
لیک یې خیرې کړ تر څو، بل څوک یې و نه ویني او د هغې په راز پوه نه شي.
سبا ماښام د وعدې سره سم، روغتون ته لاړه.
د روغتون انګړ ته د ننه شوه، سترګې یې په مسافر ولګېدې، زړه یې په ډبه هارو شو، مسافر هم تر ونې لاندې ولاړ و.
هغه هم د مسافر په زړه کې خوږه شوه.
بیا جلۍ مسافر ته نږدې شوه.
سلام یې ورکړ،
مسافر، دهغې سلام ته وعلیکم و ویل.
بیا د جلۍ، پو ښتنې پیل شوې.

څو کسه په کور کې اوسېږۍ؟
څو ورونه او خوېندې لرې؟
په افغانستان کې د کوم ځای یاست؟
روزګار مو په هیواد کې څنګه دی؟
..............
او داسې نور.
مسافر به هم، ورته رښتیا ویل.
بیا جلۍ مسافر ته و ویل:
مننه کوم.
کله نا کله به دلته سره وینو!
مسافر و ویل:
سمه ده.
کومه ستونزه نه شته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا جلۍ خدای پاماني واخیسته او کور ته روانه شوه.
مسافر هم لږ وخت وروسته کور خواته روان شو.
د دوی مینه به ورځ په ورځ ډېرېده او لیده کاته یې هم ډېرېدل.
دا لیده کاته به یې د هفتې په منځ کې و.
مینه یې خورا ډېره شوه.
جلۍ دې ته اړ شوه چې مسافر ته و وایې له هغې نه ریباري وکړي.
مسافر دا موضوع له خپلۍ مورې سره  شریکه کړه.
مو ریې ور نه پوښتنه وکړه؟
دا جلۍ څوک ده؟
هغه و ویل:
پښتنه ده؟
بیایې و ویل:
د افغانستان د کوم ولایت نه ده؟
مسافر و ویل:
د افغانستانه، نه ده.
مور یې و پوښتل؟
د کوم ځای ده چې پښتنه ده خو د افغانستانه نه ده؟
هغه زیاته کړه،
موري!
هغه د پیښور پښتنه ده،
پوهیږې چې پښتون، غټ ټبر دی .
د انګریزو دسیسو له کبله یې پښتانه په دوې برخو و وېشل، تر څو خپلو موخو ته ورسیږي.
مور یې ویل:
هو!
مور به مې راته ویل؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې و پوښتل:
جلۍ چېرته اوسېږي؟
هغه و ویل:
په پولیس کالوني کې اوسېږي.
مور یې و پوښتل:
هغه ځنګه، هلته اوسېږي؟
مسافر و ویل:
هغه د پېښاور د ښار د یو لوړ پوړي افسر لور ده.
مور یې و ویل:
ټوکې کوې او که رښتیا وایې؟
مسافر و ویل:
رښتیا وایم.
بیا مور یې و ویل:
دې سره څرنګه اشنا شوې؟
مسافر خپله کیسه د شپېلۍ وهلو نه پیل کړه.
مور یې حیرانه او هکه پکه شوه.
بیایې و ویل:
مونږ مهاجر یو او دوی میښت دي،
همدا راز مونږ بې وسوه او دوی شتمن خلک دي، پلار یې هم د
پولیسو جګ پوړی افسر دی.
امکان نه لري!
بیا مور یې پوښتنه وکړه:
تا د خپل ژوند کیسه ور ته کړې ده؟
مسافر و ویل:
هو!
ما ورته ټوله رښتیا ویلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل ژوند، کورنۍ، ورونو، خویندو، روزګار، په کمپ کې ژوند کول، ټول مې ورته رښتیا ویلي دي.
مور یې بیا په سوچ کې ډوبه شوه او ویې ویل:
څه وکړم؟
مسافر و ویل:
دا موضوع نن شپه د پلار سره مې شریکه کړه.
هغې و ویل:
سمه ده.
مسافر په سوچ کې له کوره و وت.
شپه شوه.
د مسافر پلار هم ستړی، ستو مانه کور ته راغی.
د شپې د ډوډۍ نه وروسته، هغې د مسافر پلار ته، ټوله کیسه وکړه.
د مسافر پلار هم هک پک پاتې شو.
د مسافر مور ته یې و ویل:
ټوکې کوې او که رښتیا وایې؟
هغې و ویل:
رښتیا وایم.
مسافر هیڅکله دروغ نه وایې.
د مسافر پلار و ویل:
څه و کړو؟
هغې و ویل:
اړینه ده چې د جلۍ کور ته ریباري لاړ شو.
بیا د مسافر پلار و ویل:
مونږ خو مهاجر او بې وسې خلک یو، څه هم د ولور له پاره نه لرو، دا کار به څنګه شي؟
د مسافر مور و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای مهربانه دی.
که چېرې هغوی و منې، زه به هیواد ته لاړه شم او پلارنۍ پاتې ځمکه به و پلورم.
ته خو هسې هیواد ته تلی، نه شې.
ځکه چې دولت به دې بندي کړي.
د مسافر پلار و ویل:
هو!
سمه ده!
خدای وکړي!
بیا د مسافر پلار و ویل:
انتظار به وکړو چې مسافر راشي او د هغه نه د جلۍ د اوسیدو پته واخلو.
لږ وخت تېر شو او مسافر کورته راغی.
پلار یې پرهغه غږ کړ:
دلته راشه!
هغه هم ژېر ته نږدی او سلام یې واچوه.
مور او پلار یې وعلیکم و ویل.
پلار یې و ویل:
دلته کینه!
مسافر کیناست.
پلار یې د جلۍ په هکله و پوښتل؛
هغه هم ربښتیا ځوابونه ورکړل.
بیا یې و ویل:
کله او څوکسه کولای شو د جلۍ کور ته لاړ شو؟
مسافر و ویل:
سبا به د جلۍ نه پوښتنه وکړم چې څه وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار يې و ويل :
سمه ده!
بيا هر څوک خپل د خوب ځايونو ته لاړل او بيده شول.
سهار شو بيا غرمه او وروسته ماښام شو، مسافر د جلۍ سره په ټاکلي ځای کې وليدل او ترې پوښتنه يې وکړه:
هغې و ويل:
لومړی به ستا مور او پلار راشي.
بيا به ټول شيان روښانه شي.
مسافر و پوښتل:
کومه ورځ؟
هغې و ويل:
د جمعې په ورځ،
په دې ورځ به زما پلار په کور کې وي.
مسافر و ويل:
سمه ده!
زه به مې خپل پلار او مور ته و وايم.
د جمعې په ورځ به زما مور او پلار، ستاسو کور ته ريباري راشي.
جلۍ په مسکا او په زړه کې خوشحاله شوه.
بيا يې سره خدای پاماني واخيسته او هر څوک خپل کور ته روان شول.
ورځې تېرې شوې او جمعه ورسېده.
مسافر او جلۍ په زړونوکې ډېر خوشحاله وو، سوچ يې کاوه چې دا هوکړه به ډېر ژر تر سره شي او دوی به پرته له کومې وېرې سره ليده کاته وکړي.
ماسپښين شو او مسافر خپلې مور څنګ ته نږدې او ويې ويل:
پلار مې په دې وخت کې څه شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې و ویل:
د جمعې لمونځ ته تلی دی، او س به راشي.
په همدې وخت کې د هغه پلار کور ته دننه شو، مسافر خوشحاله شو
او د پلار مخې ته لاړ.
لومړی یې سلام ورکړ او بیا یې د هغه لاسونه مچو کړل.
پلار یې سلام ته وعلیکم او د هغه سره یې مچو کړ.
بیا یې مسافر ته و ویل:
کولای شو لاړ شو؟
هغه و ویل:
هو!
ولې نه!
بیا هغوی درې واړه له کوره و وتل:
سړک ته نږدې شوو، یوه ریکشا یې ودروله او په کې سپاره شوو.
ریکشا موخې ته ورسېده او هغوی د ریکشا نه پلي شو.
بیا مسافر و ویل:
زه به تا سو د هغې تر کوره لاربنونه وکړم بیا به زه بېرته راشم او
د هغې غټې ونې لاندې به د تاسو انتظار وکړم.
هغوي و منه،
بیا هغوي د جلۍ کور خوا ته روان شوو.
مسافرد جلۍ کور له ورایه وښود او خپله یې بېرته ټاکلی ځای لوري
ته روان شو.
هغوي کور ته نږدې شوو،
جلۍ هم په بالکن کې ولاړه او د ریباری انتظار یې کاوه.
هغوی دروازه وټکوله او جلۍ منده کړه، دروازه یې خلاصه کړه،
لومړی یې سلام ورکړ او بیا یې وپوښتل:
څوک او د چا سره مو کار دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی و ویل:
میلمانه یو، میلمانه مو په کار دي؟
هغې خپلې مور ته غږ کړ او ویې ویل:
مورېې !
میلمانه دي.
مور یې دروازې ته راغله او هغوی ته یې د ناستې (سالون) کوټې ته لارښونه وکړه، هغوی کوټې ته ننوتل.
مورېې و ویل:
پلار ته دې غږ کړه!
ته د شیدو چای جوړ کړه، کوم وخت چې ما و ویل، بیا هغه راوړه.
مور یې په کیسه پوه وه او جلۍ هغې ته کړي وه.
دوی په خبرو پیل کړ.
بیا یې جلۍ په هکله د ریباری غوښتنه وکړه.
د جلۍ پلار د الک په هکله څېړنی پیل کړي، له خبرو نه روښانه شوه چې هلک د افغانستان او دلته مهاجر دی.
هغه د مهاجرو په یوه کمپ کې ورځې او شپې تېروي.
په همدی وخت کې جلۍ د اوسیدو(سالون) کوټې ته نږدې او تر دروازې شا ودرېده، تر څو د خپل پلار خبرې واوری چې د هغې په هکله څه پرېکړه کوي.
خبرې خورا تودې وې.
مګر د جلۍ د پلار زړه نه و، په پایله کې یې پرېکړه وکړه چې هغوی ته د نه منلوځواب ورکړي.
د جلۍ مور ډېر کوښښ کاوه چې دا ریباري بلې ورځې ته پرېږدي تر څو د جلۍ او د هغې ماما ګانو سره مشوره وکړي.
مګر د جلۍ پلار د هغې خبره وا نه ورېده او هغوی ته یې د نه منلو ځواب ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې جلۍ په ژړا شوه او د دروازې نه لرې او خپلې کوټې ته روانه شوه.
د مسافر پلار، مور هم له ځايه پاڅېدل او ويې ويل:
که بيا بله ورځ راشو، ستاسو نظر څنګه دی؟
هغه و ويل :
زما يوه خبر او هغه هم پخه خبر ده.
مونږ او تاسو سره ډېر توپير لرو، دا کار نه کېدونکی دی.
د مسافر پلار او مور ډېر خوابښيني شوو او د جلۍ د کوره و وتل:
هغوي د ونې خواته روان شوو، کومه چې مسافر ورته بنودلې وه، و نې ته نږدې شوو او مسافر د خپلې مور او پلار مخې ته ورغی او خوشحاله ښکارېده.
مسافر خپلې مور او پلار ته سلام ورکړ، ويې ويل:
څنګه شو؟
هغوی سلام ته وعليکم و وايه او ويې ويل:
کار خو ونه شو.
د جلۍ پلار راضي نه دی، زياته يې کړه چې هېڅ خبره نه مني او وايي:
سمه ده چې مونږ اوتاسو سره يو قام او پښتانه يو، خو دا کار ناشونی دی.
مسافر هم خورا خپه شو.
دوی ټول مخ پر کور روان شوو.
کورته ورسېدل او څپرې خوا ته لاړل.
هلته کيناستل.
د کور نوروغړو ترې پوښتنه وکړه:
خوشحاله راغلی او که خپه؟
د مسافر مور و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورا خپه.
هغوي هم خپه شوو.
شپه تېره شوه.
سهار شو.
مسافر له کوره و وت او خپله پرونۍ کیسه یې ملګری ته و کړه:
ملګری یې هم، ډیر خپه شو.
بیا یې و ویل:
مه خپه کیږه!
خدای مهربانه دی!
جلۍ پر تا مینه ده.
ډیر سوچ مه کوه؛
مسافر و ویل:
زه له هغې سره خبرې کوم.
کېدای شي خپل پلار ته قناعت ور کړي.
ملګري یې و ویل:
دا سمه ده.
څو ورځې وروسته یې له جلۍ سره خبرې وکړي.
هغې وعده ورکړه چې ستونزه به د مور په ذریعه حل کړي.
مور یې د جلۍ د مینتوب کیسه د هغې پلار ته وکړه او ورته یې و ویل:
ما هم ورته ډېر نصیحت وکړ، مګر هغه یې نه مني او پر الک ولاړه او مینه ده.
د جلۍ پلار پرېکړه وکړه چې هغه پرې نه ږدی چې له کوره و وځي او د الک سره و ویني.
پلار یې سوچ کاوه چې، کېدی شي جلۍ له الک سره افغانستان ته لاړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا به، ده او د ده کورنۍ ته ډيره ستونزمنه خبره وي.
ورځې تېرېدې او جلۍ نه شو کولای الک و ويني.
دواړو به په جلا جلا سوچونه کول او د حل لارې به يې کتلې.
مسافر به خواشينۍ ښکارېده او له چا سره به يې خبرې هم نه کولې.
د مسافر چوپتيا به د هغه مور او پلار زو راوه او په سوچ کې به يې ډوبه و.
د مسافر پلار يوه ورځ وختي ماجت ته لاړ، دوي کسان جومات ته راغلی وو. هغه خپل نفل لمونځ وکړ، نا ببره يې په زړه کې وګرځېد چې هغه موضوع د ملا سره شريکه کړی، ګوندې هغه ورته کومه لاره و مومي.

زړه، نا زړه ملا خوا ته نږدې شو او ورته يې و ويل:
کولای شم يوه شخصي موضوع در سره شريکه کړم؟
هغه و ويل:
هو!
و وايه!
هغه د مسافر د مينې او ريبارۍ تګ کيسه ملا ته وکړه،
هغه و ويل:
ته سوچ مه کوه، که نصيب وي د حل لاره به پيدا شي.
ملا زياته کړه، ويې ويل:
په هغې کالونۍ کې د جومات امام زما ډېر نږدې ملګری دی، مونږ په يوې مدرسې کې سبق ويلی دی.
زه به لاړ شم او د هغه سره به مشوره وکړم.
بيا يې د جلۍ د کور پته واخيسته.
د مسافر پلار ډير خوشحاله شو او کور ته لاړ.
مازيګر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا د کالونۍ په لور حرکت کړ.
یوه ګړی وروسته کالونۍ ته ورسید او جومات خوا ته لاړ.
د مازیګر جمع نږدې وه، هغه هم جومات ته د ننه شو او د مازیګر لمونځ یې په جمعې سره ادا کړ.
خلک د جومات نه په وتو پیل کړ.
هغه هم ودرید تر څو خلک لږ او ځان ملا امام ته نږدې کړي.
ورو، ورو ملا امام خواته نږدې شو.
په دې وخت کې د امام ورته پام شو، هغه خواته یې منده کړه، خپل ملګری یې په غېږ کې ونیو، روغ بړ یې ورسره وکړ، بیا یی دېرې خوا ته بوته او چای یې ورته وغوښت.
دواړه پر کټ کیناستل او پر خبرو یې پیل کړ.
بیا له ملګري یې و پوښتل:
څرنګه دې خوا راغلۍ؟
هغه و ویل:
لومړی، ستا د لیدو له پاره،
بیا یوه موضوع مې درسره شریکوله، کومه چې د ستاسو کالونۍ پورې اړه لري.
هغه و ویل:
مهرباني!
و وایه!
هغه و ویل:
زمونږ د سیمې الک او ستاسو د سیمې جلۍ سره مینه لري، جلۍ پر الک خورا مینه ده، لومړی هغه د الک په شپېلۍ وهلو او بیا وروسته د هغه د لیدو نه، پر هغه هم مینه شوې ده.
بیا جلۍ خواست وکړ تر څو الک هغوي کورته ریبار واستوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الک خپل مور او پلار د هغې جلۍ کورته واستوو، مګر د جلۍ پلار ریباری و نه منله او ورته یې و ویل:
دا خبره ناشونې ده.
هغوی ډیر خپه کورته راغلل او په اړه یې، نن دا کیسه ما ته وکړه.
ځکه نن تا ځنګ ته راغلم، کېدای شي ته ورته کومه د حل لاره مونده کړې.
هغه و ویل:
سمه ده!
د کور پته یې لرې؟
هغه و ویل:
هو!
د هغې جلۍ د کور پته یې ور کړه.
هغه و ویل:
ملا صاحب !
زه هغه ښه پېژنم.
هغه د سیمې ستر پولیس دی، زه به ورسره خبرې وکړم، بیا به تاته احوال درکړم.
ماښام نږدې شو او ملا له خپل ملګري نه د تګ اجازه واخیسته او کمپ لوري ته روان شو.
څو ورځې تېرې شوې، د ملا ملګری کمپ جومات ته راغی اوخپل ملګری سره یې و کتل.
بیا یې ور ته و ویل:
ما د هغې د پلاره سره وکتل او ماته یې هم، د نه ځواب راکړ.
اوس یوازې یوه لاره شته،
هغه لاره د پښتنو په منځ کې د جرګې لار ده، کوم چې پښتانه ته د منلو وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځی چې د مسافر د پلار سره خبرې وکړو او یوه د جمعی ورځ وټاکو او د جلۍ پلار کور ته جرګه لاړ شو، ګوندې لاره اواره شي.
په همدې خبرو کې د مسافر پلار هم ورسید، ملا امام ورته بلنه ورکړه چې، نږدې کېني.
هغه هم نږدی کیناست او په ګده سره یې فیصله و کړه، تر څو د جلۍ کور ته جرګه ولیږي.
په جرګه کې به څلور ملایان، څلور د کمپ سپین ږیري او د هلک پلار به وي.
دوی، وخت یې د جمعي ورځ و ټاکله.
د کالوني ملا امام ته یې وظیفه ورکړه تر څود جلۍ پلارسره د جرګې او وخت په هکله معلومات شریکه کړي.
د کالوني ملا امام خبره و منله او د وعدی سره سم د جلۍ پلار سره یې و لیدل او د جرګې د وخت او موضوع په هکله یې، هغه ته ټول معلومات ورکړل.
جمعه را ورسیده او د جرګې غړی تیار شوو او د کالوني په لور یې حرکت وکړ.
هغوی یوه ګړی وروسته یادې سیمې ته ورسېدل او د جلۍ د کور په لور یې ګړندي ګامونه واخیستل.
کور ته نږدی شوو.
د کچه ګړۍ ملا امام، نورو ته و ویل:
ورونو!
نن به دا موضوع په ښه ښان او د دواړو کورنیو په ګټه تمام کړو، تر څو چې پاېلې ته نه یو رسېدلي، له کوره به نه وځوو.
ټولو دا خبره و منله.
وروسته ملا امام و ویل:
بسم الله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه و ټکوی.
د هلک پلار د مخه شو او دروازه یې وټکوله.
د جلۍ پلار دروازه خلاصه کړه او میلمنو ته یې ښه راغلاست و وایه.
بیا یې له ټولو سره روغبړ و کړ او هغوی ته یې د ناستې (سالون) کوټې ته بلنه ورکړه.
د جلۍ پلار د شیدو چای فرمایښت ورکړ.
د جرګې غړو په خبرو پیل کړ او ویې ویل:
مونږ ټول یو قام اوپښتانه یو، اړینه نه ده چې یو تر بله ځان پورته وګڼو، ښه خبره به داوي چې نن یوې ښې پایلې ته ورسېږو.
خبرې اوږدی او د شیدو چای ورسېد.
د کچه ګړی ملا امام و ویل:
مونږ تر څو چې پایلې ته ونه رسېږو، نه چای څښو او نه به له کوره وځوو.
بیا یې زیاته کړه.
مونږ ټول د جلۍ د مینې په اساس راغلي یو که چېرې دا کار ونه شي ، دا به ډېرې بدې پایلې و لري.
د جلۍ پلار په سوچ کې ډوب شو، په یاد یې راغی چې یوه شپه د هغې لور تصمیم نیولی و چې ځان وژنه وکړي.
بیا د جلۍ پلار و ویل:
دومر ه چې تاسو ښه خلک یاست او جرګه مو را غوښتې ده د پښتنو د جرګې په اساس تاسو خبره په یوه شرط منم.
بیا د کالوني ملا امام غږ کړ:
و وایه کوم شرط؟
هغه و ویل:
که چېرې تاسو له ما سره موافقه کوي، هغه دا چې، الک به له واده وروسته همدلته پاتې کیږي، زه د جرګې سره موافقه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسافر پلار و ویل:
دا به د مونږ له پاره ډېر سخت کار وي، ښه به وي چې د الک سره مشوره وشي.
ټولو و منله او ویې ویل:
دا ښه کار دی.
بیا د جلۍ پلار و ویل:
اوس د چای په څښلو پیل کړئ.
خبره لنډه او پای ته نږدې شوه.
هغوی چای و څښو او خوشحاله شوو.
بیا دې کچه ګړی ملا امام و ویل:
اوس به څه کوو؟
د جلۍ پلار و ویل:
تا سو د مسافر سره خبرې و کړئ، مونږ به د کوژدې دسمال او پتاسې تیارې کړو.
بیا د جرګې را تګ ته اړتیا نه شته، څو کسه نارینه او ښځینه به راشي، مونږ به ورته دسمال او پتاسې ورکړو او خبره به خلاصه کړو.
بیا یې د ملا امام نه و غوښتل چې یوه د خیر دعا و کړي.
هغه دعا و کړه، د کوره څخه و وتل، ټول خوشحاله شول او د الک پلار ته یې مبارکي و ویله، هر څوک خپلو کورنو خوا ته روان شوو.
د الک پلار کور ته لاړ، څپرې لاندې کیناست، د الک مور، خویندې، ورونه هم و رسېدل، او له هغه یې و پوښتل:
جرګه څنګه شوه؟
هغه و ویل:
جرګه مو و ګټله.
د ملایانو کور دې اباد وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الک کورنۍ ډېره خوشحاله شوه او ویې ویل:
کومه ستونزه خو به نه وي پاتې شوې؟
هغه و ویل:
نه!
یوه شرط پاتې شو،
د الک مور و ویل:
بیا کوم شرط؟
مونږ کولی شو چې تر سره یې کړو؟
هغه و ویل:
هو!
دا شرط د مسافره پورې، اړه لري.
که هغه وغواړي، خبره خلاصه ده.
بیا هغې و ویل:
و دې نه ویل؛
کوم شرط؟
هغه زیاته کړه او و یې ویل:
د جلۍ پلار شرط کېښود، که چېرې الک د واده نه وروسته زمونږ په کور کې پاتې کېږي، مونږ یې منو.
مور یې و ویل:
دا دې لا بله خوشحالي!
مونږ په څه خواریو هغه لوی کړی دی، بیا به یې هغوی ته سپارو؟
پلار یې و ویل:
بس!
ژوند همداسې دی.
خدای دې مونږ په خپل امان کې و ساتي،
څه چې د خدای رضا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د الک پلار و پوښتل:
مسافر چېرې دی؟
موریې و ویل:
هغه د باندې دی.
اوس به راشي.
دوی په خبرو بوخت وو چې مسافر کور ته د ننه شو.
هغه پلار ته نږدې شو او سلام یې وا چوه.
پلار یې علیکم و ویل،
بیا یې و ویل:
راځه لږ نږدې کېنه او هغه نږدې شو.
هغه ور ته و ویل:
د جلۍ پلار یو شرط لري.
مسافر و ویل:
کوم شرط؟
هغه و ویل:
وروسته له واده ځخه، د خسر کور کې اوسېدل.
مسافر و ویل:
زه یې نه منم.
زه نه غواړم چې د خپل مور، پلار، خویندو او ورونو نه جلا، ژوند و کړم.
مسافر د دې خبرو په اورېدو سره ډېر خواشینی او له کوره و وت.
د خپل ملګري خواته روان شو، له هغه سره یې و کتل، ټولې تېرې شوې خبرې یې ورته وکړې.
بیا ملګری یې و ویل:
ته د جلۍ سره خبره وکړه، ګوندې کومه لاره ورته پیدا کړي.
هغه و منله او ماښام کور ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور ته يې و ويل:
لومړی غواړم چې د جلۍ سره خبرې و کړم، و ګورم چې هغه څه وايي؟
مور يې و ويل:
سمه ده!
څرنګه چې د تا خوښه وي.
يوه ورځ وروسته مسافر د جلۍ سره و کتل، او هغې ته يې د پلار شرط و وايه.
هغه موسکۍ شوه او ويې ويل:
ته زما د پلار خبره ومنه!
وروسته به مونږ جلا ژوند وکړو.
مسافر و ويل:
ستا پلار نه غواړی چې مونږ جلا ژوند وکړو.
هغې و ويل:
هو!
وروسته به ټول کارونه سم شي.
اوس له پاره د هغه خبره و منه!
زه د ستا سره ولاړه يم.
مسافر خوشحاله شو، د هغې نه يې خدای پاماني واخيسته او کور ته روان شو.
د شپې ډوډۍ نه وروسته، هغه د جلۍ سره د ليدو او د هغې زيرکتيا خبره د خپلې کورنۍ سره، شريکه کړه.
هغوی و ويل:
څه چي د ستا او جلۍ په خير وي، مونږ به يې وکړو.
يوه ورځ وروسته د الک پلار د ملا امام خواته لاړ او هغه ته د مسافر د پرېکړې خبر ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ويل:
څه چې د خدای رضا وي.
د جمعی په ماسپښين، هغوي څو ښځينه او نارينه تيار او د جلۍ کور ته يې ريبارۍ ته واستول.
دا ځل د الک مور د شرط موافقه يې، جلۍ مورته و ويله، هغه هم ډيره خوشحاله شوه.
بيا نارينو په خپل منځوکې خبری اترې وکړې.
يوه ګړی وروسته د جلۍ مور د هغی د پلار په اشاره د پټاسو دسمال راوړ او د هغوی په مخ کې يې کېښود.
هغوی هم يوه انداز پيسې د افغاني رواج سره سم په مجمه کې کېښودې؛
چاي يې و څښو اوروسته د پټاسو دسمال يې واخيست او خورا خوشحالۍ سره د جلۍ د کوره و وتل.
دواړو خواو ته خوشحالي پيل شوه، جلۍ او الک هم کولای شو چې په خپل مينځو کې بې له وېرې سره وګوري.
هغوی کوژده او بيايې واده وکړ.
الک د جلۍ په کور کې خپل نوی ژوند پيل کړ، مګر هره ورځ به په سختۍ سره تېرېده؛
هغه لومړی له هيواده جلا شو.
بې کوره په کمپ کې اوسېده، بيا د کورنۍ نه هم جلا شو.
څه موده تېره شوه او جلۍ مسافر ته و ويل:
زما زړه ډير په تنګ دی.
ښه به وي چې د تاسو کورته، لاړ شو.
الک و ويل:
سمه ده!
ته مور ته دې و وايه چې سبا مونږ د مسافر کورته ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغی د خپلې موري نه اجازه واخیسته او د مسافر کورته لاړل.
هغوی تولله ورځ الته تېره کړه او ماښام کورته ستانه شوو.
داسې به کله، ناکله د الک او جلۍ خپلو او ځپلوانو کورونو ته میلمستیا ته تلل.
ځومیاشتې تېرى شوي.
په حالاتو کې بدلون راغی.
افغان مهاجر په ستنېدو پیل کړ، د الک کورنۍ هم هیواد ته ستنه شوه.
الک خپه ښکارېده.
هیڅ موسکا یې په شونډو کې نه ښکارېده.
یوه ورځ جلۍ د مسافر نه پوښتنه وکړه:
ولې ډېر خپه ښکارې؟
هغه و ویل:
د هیواده جلا بیا د خسر کوره کې ژوند، د بندي په څېر دی.
جلۍ و ویل:
ته مه خپه کیږه!
زه هم په خپله ژمنه ولاړه یم، وخت به و رسیږي او مونږ به جلا ژوند پیل کړو.
هغه و ویل:
دا امکان نه لري.
زه خو کار اوبار نه لرم.
او په هیواد کې ویجاړ شوی کور لرم،
د کور جوړلو ته پیسې په کار دي چې مونږ یې نه لرو.
هغې و ویل:
خدای مهربانه دی.
هر څه به سم شي.
څه وخت وروسته جلۍ مسافر ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو کلې څنګه دی، څوک په کې اوسېږي؟
هغه و ويل:
شاوخوايې شين دی، څه کوټې په کې شته او لږ، لږ ويجاړې شوي دي.
بايد جوړی شي.
هغې و ويل:
کېدای شي چې يوځل لاړ شو او د نږدې يې وګورو؟
هغه په خندا شو او ويې ويل:
څنګه دې د افغانستان شوق وکړ؟
هغې و ويل:
هيڅ !
يو چکر به و وهو او ستا هيواد به هم وګورو.
هغه و ويل:
سمه ده!
د مور اوپلار نه دې اجازه واخله.
هغې د خپل پلار او مور نه د دوو شرطونو سره اجازه واخيسته.

- ډير به احتياط کوي چې له ماينونو نه به ځان ساتې.
- دوی شپو نه به ډېر و خت نه تېروي.

مسافر ومنله او خوشحاله شو.
يوه ورځ پلاريې خپلې لور ته و ويل:
هر وخت چې تاسو وغوښتل افغانستان ته لاړ شئ، ما ته و وايه چې د تاسو له پاره د موټر بند او بست و کړم.
هغې و ويل:
سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې یې مسافر ته و ویل:
کېدای شي مونږ سبا وختي، تاسو هیواد ته لاړ شو.
هغه و ویل:
سمه ده!
کاشکې دې وختي ویلي وای چې، یو موټر مو تر تورخمه (طورخمه) پورې نیولی وای.
هغې و ویل:
پلار مې د موټر بندو بست کړی دی.
هغه ګونځاخې، مټیان هم راوړي دي، چې دستاسو هیواد په ګاونډیانو یې و وېشو.
هغې نورسوغات هم راټول کړي و.
سهار شو او موټر و رسېد.
دروازه وټکول شوه، مسافر دروازې ته لاړ، دروازه یې خلاصه کړه او ویې پوښتل:
څوک دې په کار دی؟
هغه و ویل:
زه ډرېور یم!
غواړم تاسو تر تورخمه و رسوم.
مسافر و ویل سمه ده!
اوس به مونږ کالي واخلو.
چلونکی و ویل:
کالي به تر دروازي راوړې، بیا به یې زه په موټر کې ځاي پر ځای کړم.
جلۍ به مسافر ته کالۍ ښودل او هغه به ډرېور ته ور کول.
کالي او سوغات خورا ډېر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هغوی د جلۍ د مور او د کورنۍ نورو غړو نه خدای پاماني واخیسته او موټر کې کېناستل، موټر حرکت وکړ.
د جلۍ مور هم یوه کوزه اوبه یې د هغوی پسې وشیندې.

په لاره کې جلۍ هری خوا ته کتل، څومره چې د تورخم لوری ته نږدې کېدل، هغومره وروسته پاتې، په سترګو لیدل کېده.
یوه ګړی وروسته هغوی تورخم ته ورسېدل او موټر یې د افغانستان د موټرو هډې خوا ته ودراوه او له موټره کوز شو.
مسافر و ویل:
ته کینه زه به یو موټر دربست کړم.
هغه و ویل:
نه!
د تاسو له پاره ماته پیسې راکړ شوي دي.
یو مینټ !
زه ژر راځم.
هغه یو موټر ته نږدې شو او هغه ته یې و ویل:
دا ځوانه کورنۍ به تر خپل پلارني کور پوري رسوې، کوم وخت چې بېرته راغلې، خپلې پیسې به دې له دې ستېشن نه تر لاسه کوې.
هغه و ویل:
سمه ده!
زه به موټر د تېلو ډک کړم او بیا وروسته به تاسوځنګ ته راشم.
هغه لاړ، موټر یې له تېلو ډک کړ او بېرته ستون شو.
دریور ټول کالي په ټاکل شوي موټر کې کېښودل او د موټر ډرېور ته یې څه پیسې هم و رکړې.
هغوی هم موټرته د ننه شوو، موټر حرکت وکړ.
هغوی د تورخم د لیکې وا وښتل او د افغانستان خاورې ته د ننه شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاره کې هرې خوا کنډوالۍ ویجاړ کورونه، دېوالونه، کلا ګانې لیدل کېدې.
سړکونه هم کندې، کندې ول.
څه وخت وروسته موټرد جلال آباد ښارته و رسېد.
ډرېور له مسافر نه پوښتنه وکړه:
اوس کومې خوا ځو؟
هغه و ویل:
لږ لاره و وهه، زه به تاته د خپلې ولسوالۍ لاره و ښیم.
بیا وروسته هغوی ټاکلي ځای ته ورسېدل، مسافر ورته و ویل:
دغی خوا ته حرکت وکړه!
چلونکی هم هغې خواته حرکت وکړ او یوه ګړۍ وروسته هغوی د مسافر کلي ته و رسېدل.
موټر کلي ته ورسېد او ماشومانو له هرې خوا منډې وهلې.
هغوی هم له موټره کته شوو،
د مسافر مور، پلار، ورونه او خویندې یې هم و رسېدې، هغوی ته یې ستړي مه شې، و وایه.
هغوی کالي او سوغاتونه له موټره کته او کلا ته یې د ننه کړل.
بیا مسافر چلونکي ته و یل:
راځه چې بلې کلا ته لاړ شو او موټر هلته ودرو، شپه به دلته وکړۍ، سهار وختي به بېرته ستون شې.
هغه و ویل:
نه!
مننه کوم.
دا چې په خیر و رسېدو، د خدای شکر دی.
بیا چلونکي د مسافر سره خدای پامانی وکړه او روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی کور ته د ننه شوو او د ویجاړو کوټو تر خوا کیناستل، مور یې هغوی ته تود چای راوړ او هغو هم خپل سوغاتونه او پټاسې خوا ته کېښودل.
خپل او خپلوان چې به یې خبرېدل، د ناوې لیدو ته راتلل، هغوی به پېسې(رونماګي) ورکولې او دوی به ورته سوغاتونه او پټاسې.
هرې خوا به میلمانه کېدل، دوې ورځې په چټکۍ سره تېرې شوې،
مسافر خپلې ښځې ته و ویل:
سبا به بېرته ستاسو کور ته لاړ شو.
هغې و ویل:
کوم کورته؟
مسافر و ویل:
کالوني ته،
هغې و ویل:
نوره هغه ځای ته، نه ځم.
دا مې کور دی، غواړم دلته ژوند و کړم.
مسافر و ویل:
دلته برېښنا نشته، ښار لرې دی.
هغې و ویل:
کومه ستونزه نشته.
بیا هغه و ویل:
ستا پلار او مور به دې په غوسه شي، او کېدای شی دلته را شي.
هغې و ویل:
زه لیک، لیکم او ته به یې هغوی ته یوسې.
ما مې مور ته ویلي دي.
هغه به زما پلار ته قناعت ور کړی.
مسافر ومنله او هغی ته یې کاغذ او قلم ور کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ليک و ليکه او مسافر ته يې ورکړ، ويې ويل:
دا ده!
ليک واخله او سبا وختي حرکت وکړه!
کوم وخت چې زمونږ کور ته و رسېدې، ليک به مور ته مې ور کوې.
سهار شو!
مسافر حرکت وکړ، ماسپښين د خپلۍ خوابنې کورته و رسېد، وروسته له ستړي مه شي نه، خوابنې ته يې ليک و رکړ، او هغه پوه شوه چې لور يې ډېره په خبره کلکه ولاړه ده.
شپه يې وکړه، خسر يې نوکري و.
سهار شو!
مسافر خپلې خوابنې ته و ويل:
زه ځم، ته به زما خسر ته قناعت ورکړې.
زما خوبني د تاسو د لور خوبني ده، چېرته چې هغه خوشحاله وي، زه هم خوشحاله يم.
بيا خوابنې يې و ويل:
لومړی چای و ځښه بيا لاړ شه.
هغه چاي و ځښه.
د ټولې کورنۍ نه يې خدای پاماني واخيسته او دروازی خواته روان شو.
خوابنې يې و ويل:
زه به خپل مېړه ته قناعت ورکړم.
تا سو خپل ژوند کوئ.
تاسو خوشحالي، زمونږ خوشحالي ده،
ته به د هغې خيال ساتې، هغه ډېره نازولې ده او کله نا کله به يې دلته راولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسافر و ویل:
سمه ده!
مسافر د کوره و وت.
لومړی تورخم، بیا جلال آباد ښار او وروسته خپل کلي ته ور سېد.
هغوی د مینې ډک او نوی ژوند پیل کړ.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه/ دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (ناول به زبان پښتو)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (ناول به زبان پښتو)
٤۳. د اسلامی معمارۍ پیل
٤٤. نامنوني ژوي
٤٥. حیوانات شوخ
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپېلۍ مینه(مه ینه) په کچه ګړۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

۱. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۲. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
۳. د ژرند ګړي ماما مینه
٤. حشمت خان د کلا معماري
٥. د افغان هلک او آذري جلۍ مینه
٦. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
۷. لیونی لېوه
۸. بې زده کړې پوی
۹. شپنه ادې
۱۰. کوشنۍ سوداګره
۱۱. سپین کارغه
۱۲. سور تنور
۱۳. خړه بیزو
۱٤. بندي مرغه
۱٥. توده برستن
۱٦. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Lover Of Flute in Kacha Gale

Written by:
Architect PHD
Hashmatullah Atmar
April /May/2024

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**